LGBTQIA+ خلک او سرطان: پښتو
Pashto: LGBTQIA+ people and cancer

دا معلومات د هغو LGBTQIA+ او نورو خلکو لپاره دي چې سرطان لري.

LGBTQIA+ همجنس پالي ښځې، همجنس پال سړي، دوه‌جنسي، ټرانسجینډر، کوییر، انټرسېکس او بې‌جنسي خلکو ته ویل کېږي په دې کې همدارنګه نور رومانټیک یا جنسي جذابیتونه او د جنسیت پیژندنه شاملېږي.

که تاسو LGBTQIA+ یاست، تاسو کېدی شي د سرطان او د خپل سرطان د درملنې په اړه پوښتنې ولرئ. تاسو کېدی شي هغه ځانګړي ملاتړ ته اړتیا ولرئ چې د سرطان لرونکو LGBTQIA+ خلکو لپاره دی.

که تاسو د دې معلوماتو په اړه کومې پوښتنې لرئ، نو د هغه روغتون د سرطان درملنې ټیم څخه پوښتنه وکړئ چېرته چې تاسو درملنه ترلاسه کوئ.

تاسو هم کولای شئ د مېکمیلن (Macmillan) کینسر سپورټ سره د وړیا تلیفون په شمېره **0808 808 00 00** اړیکه ونیسئ ،چې په اونۍ کې 7 ورځې، د سهار 8 څخه تر ماښام 8 پورې فعال دی. موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ له موږ سره په خپلې ژبې خبرې وکړئ. کله چې تاسو موږ ته زنګ ووهئ نو مهرباني وکړئ موږ ته په انګلیسي کې ووایاست چې تاسو کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

زمونږ په وېب پاڼه کې په دې ژبه کې د سرطان په اړه نور معلومات هم شته. دا وګورئ macmillan.org.uk/translations

تاسو کولی شئ دا معلومات په انګلیسي ژبه هم ولولئ.

دا معلومات د دې په اړه دي:

- د خپل روغتیا پالنې د ټیم سره خبرې کول
- د مناسبې درملنې ترلاسه کول
- سرطان، جنسي اړیکه او امېندواري
- که تاسو ټرانسجینډر، نان‌باینري یا انټرسېکس یاست او سرطان لرئ
- LGBTQIA+، سرطان او ستاسو ټولنه
- د خپل ځان لپاره مناسبه یاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول
- مېکمیلن (Macmillan) له تاسو سره څنګه مرسته کولی شي
- ستاسو په ژبه کې نور معلومات
- مأخذونه او مننې

د خپل روغتیا پالنې د ټیم سره خبرې کول

ستاسو د روغتیاپالنې ټیم هغه کسان دي چې ستاسو درملنه کوي یا ستاسو د روغتیا په هکله تاسو ته مشورې درکوي. دا کېدی شي ستاسو عمومي ډاکټر، د سرطان ډاکټر یا نرسانې وي.

ځینې وختونه ستاسو د روغتیا پالنې ټیم کېدی شي د لاندې مواردو په هکله تاسو څخه وپوښتي:

- ستاسو جنسیت - دا په دې مانا چې آیا تاسو سړی، ښځه، یا د بل جنسیتي هویت لرونکي یاست
- ستاسو بیولوژیکي جنس یا د تناسلي او اولاد لرلو اړوند د بدن غړي.
- ستاسو جنسي ژوند یا جنسي لېوالتیا
- ستاسو اړیکې او دا چې ستاسو لپاره څوک مهم دي.

دا معلومات له روغتیایي ټیم سره مرسته کوي چې ستاسو ملاتړ وکړي. دا له هغوی سره مرسته کوي چې:

- تاسو ته سم روغتیایي معلومات درکړي
- په داسې توګه ستاسو درملنه وکړي چې ستاسو لپاره شخصي وي
- د هغو خلکو ملاتړ وکړي چې ستاسو لپاره مهم دي.

که تاسو ډاډه نه یاست چې ستاسو د روغتیاپالنې ټیم ولې دغو معلوماتو ته اړتیا لري، تاسو کولای شئ له هغوی وپوښتئ. هغوی کولای شي تاسو ته ووایي چې دا به ولې مهمه وي چې ستاسو ملاتړ او درملنه وکړي.

آیا زه کولای شم د روغتیاپالنې خپل ټیم ته ووایم چې زه LGBTQIA+ یم؟

که تاسو غواړئ چې ستاسو د روغتیاپالنې ټیم پوه شي، تاسو کولای شئ هغوی ته ووایاست چې تاسو LGBTQIA+ یاست، حتی که هغوی پوښتنه هم نه وي کړې.

تاسو کولای شئ دغه کار هغه مهال وکړئ کله چې لومړی ځل د خپل ټیم له کوم غړي سره ګورئ. یا پرېکړه وکړئ چې تر هغه وخته انتظار وکړئ څو داسې څوک ومومئ چې ورسره ځان هوسا احساسوئ.

ځینې روغتیایي کارکوونکي د NHS د ویاړ رنګین نښان (NHS Pride Rainbow Badge) اغوندي. دا په دې مانا چې د دې نښان اغوستونکي خلک له LGBTQIA+ خلکو څخه ملاتړ کوي. ستاسو د روغتیاپالنې د ټیم ځینې نور خلک ښایي کېدی شي د رنګین کمان نور توکي واغوندي. هغوی کېدی شي LGBTQIA+ وي یا هغوی کېدای شي وغواړي وښیي چې له LGBTQIA+ خلکو سره ملاتړ کوي.

زه د روغتیاپالنې ټیم ته نور څه ووایم؟
تاسو کولای شئ د روغتیاپالنې خپل ټیم ته ټول هغه شیان ووایاست چې ستاسو لپاره مهم دي. په دې کې کېدی شي لاندې شیان شامل وي:

- که تاسو کورنۍ، ملګري یا داسې شریک لرئ چې ستاسو ملاتړ کوي
- هغه کسان چې تاسو هغوی ته رضایت ورکوئ چې ستاسو د پالنې په اړه خبرې وکړي
- کومو معلوماتو ته تاسو اړتیا لرئ او اړتیا نلرئ.

تاسو کېدی شي وغواړئ څرګنده کړئ چې تاسو په کې شامل یاست یا نه. دا په دې مانا چې نور خلک پوه شي چې تاسو LGBTQIA+ یاست کنه یا دا چې تاسو دغه راز پټ ساتئ. ستاسو د سرطان ټیم باید ستاسو ټول معلومات محرم وساتي. او یوازې هغه مهال یې له نورو روغتیایي کارکوونکو سره شریک کړي چې ستاسو د پاملرنې لپاره اړتیا وي.

د مناسبې درملنې ترلاسه کول

ستاسو د سرطان ټیم باید له تاسو سره عادلانه چلند وکړي، هر څوک چې یاست. د توکم، کلتور، جنسي لېوالتیا، بیولوژیکي جنس یا ټرانسجینډر هویت له امله له چا سره ناعادلانه چلند کول د قانون خلاف دي. د مذهب یا معلولیت له امله هم ناعادلانه چلند روا نه دی.

که تاسو داسې احساسوئ چې نامناسب چلند درسره کېږي، ځینې کارونه شتون لري چې تاسو یې باید وکړئ:

- د خپل سرطان ټیم له یو غړي سره خبرې وکړئ، که چېرې دا کار ترسره کول خوندي احساسوئ. دا کېدی شي د ستونزې په هواري کې ستاسو له ټیم سره مرسته وکړي. دا همدارنګه له هغوی سره مرسته کوي چې زده کړه وکړي او ستاسو پالنه وکړي.
- له داسې چا سره خبرې وکړئ چې باور وربانديې لرئ. دا کېدی شي تاسو ته نېردې کس وي یا د روغتیاپالنې داسې متخصص وي چې تاسو یې ښه پېژنئ. داسې اداره هم شته چې د LGBTQIA+ خلکو د ملاتړ لپاره ورسره خبرې کولی شئ.
- NHS ته فیډبک ورکړئ یا شکایت ورته وکړئ. NHS ته خپل نظر یا شکایت وړاندې کړئ. که غواړئ، خپل نظر او شکایت بې له دې چې نوم مو ورکړئ، سپارلی شئ.

سرطان، جنسي اړیکه او امېندواري

سرطان او د سرطان ځینې درملنې کولای شي لاندې اغېزې ولري:

- ستاسو د جنسي اړیکو ژوند: - ځینې جانبي عوارض کېدی شي ستاسو جنسي اړیکې ته په پام سره چې ترجېح ورکوئ لویه ستونزه وي
- ستاسو امېندواري - دا په دې مانا چې د امېندواره کېدو یا د بل چا د امېندواره کولو لپاره ستاسو وړتیا.

ستاسو د سرطان ډاکټر یا نرسه کولای شي تاسو ته ووایي چې آیا ستاسو د سرطان درملنه کولای شي چې ستاسو د جنسي اړیکې لپاره جانبي عوارض یا د امېندواره کېدو ستونزه ولري. تاسو کولای شئ له هغوی څخه له درملنې مخکې، د درملنې په جریان کې یا وروسته د جنسي اړیکې یا امېندوارۍ په هکله هر ډول پوښتنې وکړئ.

که تاسو ټرانسجینډر، نان‌باینري یا انټرسیکس یاست او سرطان لرئ

ستاسو خپل د سرطان ټیم باید تاسو ته داسې مراقبت، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کوي. هغوی باید تاسو د یو ځانګړي فرد په توګه ومني او داسې درسره کار وکړي چې محرمیت او درناوی مو خوندي وي.

ستاسو ټیم باید ستاسو ټول معلومات محرم وساتي. هغوي کېدای شي معلومات له نورو روغتیایي کارکوونکو سره شریک کړي، خو یوازې هغه وخت چې ستاسو د پاملرنې لپاره اړین وي.

که تاسو په روغتون کې بستر کېدو ته اړتیا لرئ، ستاسو ټیم باید پوښتنه وکړي چې تاسو چېرته باید پاتې شئ. چېرې چې تاسو پاتې کېږئ باید ستاسو لپاره محرم او خوندي وي. خپل ټیم ته ووایاست چې څه شی تاسو ته د هوسایی او سموالي احساس درکوي.

که تاسو ټرانسجینډر یا نان‌باینري یاست

ستاسو د سرطان ټیم ته دا ویل ګټور کېدای شي چې د زېږېدو پر مهال کوم جنس درته ټاکل شوی و. کله ناکله دا خبره مهمه وي. د بېلګې په توګه، د امېندواری پر مهال ځینې سکینونه باید ونه کارول شي ځکه چې کېدی شي مضر وي. که ستاسو په NHS ریکارډ کې جنس نارینه ثبت وي، خو د امېندواری امکان موجود وي، د سکین ترسره کوونکی باید خبر وي، چې خوندیتوب مو ډاډمن کړي.

ځینې د جنسیت د تایید درملنې د سرطان پر درملنه اغېز کولی شي. مهمه ده چې خپل د سرطان ټیم خبر کړئ که لاندې درملنې مو کړې وي یا یې پلان لرئ:

- هورمونې درمل چې ستاسو بدن ته ډېر د نارینتوب یا ښځینه توب خاصیت ورکوي
- د نارینه او ښځینه د تناسلي غړو د جوړولو عملیات (تناسلي سرجري)
- د سینو د غوڅولو عملیات. دا د ټاپ سرجری یا د نارینه د سینې د بیارغونې په نوم یادېږي.

که ستاسو د سرطان ټیم د دې په اړه مشوره ته اړتیا ولري چې د سرطان پاملرنه مو د جنسیت د تایید پر پاملرنه څه اغېز کولی شي، د UK Cancer and Transition Service (UCATS) مرسته کولی شي. UCATS په ټوله بریتانیا کې د خلکو لپاره د NHS د مسلکي کارکوونکو وړیا خدمت دی. ستاسو ټیم باید له UCATS سره تر اړیکې مخکې ستاسو اجازه واخلي. تاسو هم UCATS سره پخپله اړیکه نیولی شئ.

که تاسو انټرسېکس یاست
انټرسېکس‌والی روغتیایي پاملرنه ستونزمنولی شي. شایي په ټېر وخت کې داسې درملنې دربانديې شوې وي چې خپله مو نه غوښتې. دا تجربه شایي اوس د روغتونونو او ډاکټرانو په اړه ستاسو پر احساساتو اغېز وکړي.

مهمه ده چې ستاسو د سرطان ټیم په دې پوه شي. هغوی باید له تاسو سره په ګډه ستاسو د پاملرنې پلان جوړ کړي او ستاسو د بدن په اړه پوه شي. که پخوا مو د انټرسېکس حالت له املې جراحي یا هورمونې درملنه کړې وي، دا شایي پر هغې پاملرنې اغېز وکړي چې اوس یې د سرطان لپاره اړتیا لرئ.

تاسو له خپل ټیم سره په دې ډول مرسته کولی شئ:
- ورته ووایئ چې د خپل بدن د بیانولو لپاره کومې کلمې کاروئ.
- ورته ووایئ چې کومې کلمې یا پوښتنې مو خپه کوي.
- هغه څه ورسره شریک کړئ چې روغتیایي پاملرنه درته ستونزمنوي.
- ورته ووایئ چې څنګه کولی شي چارې درته اسانه کړي.

+LGBTQIA، سرطان او ستاسو ټولنه
کورنۍ او ټولنه کېدی شي د ملاتړ لپاره مهمې سرچینې وي. خو د ځینو LGBTQIA+ خلکو لپاره دا موضوع پېچلې وي. د کورنۍ یا ټولنې نظر د LGBTQIA+ خلکو یا سرطان په اړه پر دې اغېز کولی شي چې د مرستې غوښتل درته څومره اسانه وي.

شاوخوا خلک ونه پوهېږي چې د هغوي چلند پر تاسو څومره اغېز کوي. د بېلګې په توګه، ځینې کورنۍ یا ټولنې د سرطان په اړه خبرې نه کوي. داسې ناویلې انګېرنه وي چې سرطان شخصي موضوع ده یا باید په اړه یې خبرې ونه شي. له همدې املې کېدای شي درته سخته وي چې د خپل حالت په اړه ووایئ یا د اړتیا پر مهال مرسته وغواړئ.

که د ملاتړ په ترلاسه کولو کې ستونزه لرئ یا درسره منفي چلند کېږي، هڅه وکړئ له داسې چا سره خبرې وکړئ چې باور پرې لرئ. دا کېدای شي ملګری، د ژوند ملګری، همکار یا د LGBTQIA+ د ملاتړ ډله وي. د دې کار د پېښېدو په صورت کې کولای شئ له مشاور سره خبرې وکړئ. له خپل عمومي ډاکټر، د سرطان له ډاکټر یا نرسې څخه غوښتنه وکړئ که چېرې کولای شي دا کار وکړئ. یا زموږ د وړیا ملاتړ کرښې ته د معلوماتو او ملاتړ په موخه **0808 808 00 00** شمېرې ته زنګ ووهئ.

د خپل ځان لپاره مناسبه پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسو سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه کښې خبرې نه شئ کولی، تاسو ممکن اندېښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او پاملرنه باندې اغېز وکړي. مګر ستاسو د روغتیا پالنې ټیم باید تاسو ته داسې پاملرنه، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهېږو چې ځینې وختونه خلک شایې د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې د اضافي ننګونو سره مخ شي. د مثال په توګه، که تاسو کار کوئ یا کورنی لرئ، تاسو ممکن د پیسو او ټرانسپورټ د لګښتونو په اړه هم اندیښنه ولرئ. دا ټول حالات کېدای شي ډېر فشار لرونکي وي او ورسره مقابله کول سخت وي.

مېکمیلن (Macmillan) له تاسو سره څنګه مرسته کولی شي

په مېکمیلن (Macmillan) کې، موږ پوهېږو چې د سرطان تشخیص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د ملاتړ لپاره موجود یو.

د مېکمیلن (Macmillan) د ملاتړ کرښه

مونږ ژباړونکي لرو، نو پدې توګه تاسو کولی شئ زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. په هره ژبه چې تاسو پرې خبرې کول غواړئ موږ ته خپله دغه غوښتنه په انګلیسي ژبې ووایاست.

زموږ د مېکمیلن (Macmillan) ملاتړ لیکې ماهر مشاورین کولای شي له تاسو سره په طبي پوښتنو کې مرسته وکړي، یا که تاسو اړتیا لرئ له چا سره خبرې وکړئ، نو هغوی به هلته موجود وي. موږ کولای شو له تاسو سره د مالي اندېښنو په اړه هم خبرې وکړو او نور هغه ګټور سازمانونه تاسو ته وښایو چې مرسته درسره کولی شي. دا وړیا، محرمي ټیلیفوني لیکه د اوونۍ په ټولو 7 ورځو، د سهار له 8 بجو تر ماښام 8 بجو پورې پرانستې ده. موږ ته په **0808 808 00 00** زنګ ووهئ.

د میکمیلن (Macmillan) وېب پاڼه

زمونږ په وېب پاڼه کې د سرطان په اړه ډېر معلومات په انګلیسي ژبه ورکړل شوي دي. دلته macmillan.org.uk/translations په نورو ژبو کې لا ډېر معلومات شته.

موږ ممکن ستاسو لپاره د ژباړې د خدماتو ترتیب هم برابر کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په informationproductionteam@macmillan.org.uk برېښنالیک کې یې واستوئ.

د معلوماتو مرکزونه

زمونږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او ګرځنده مرکزونو کې موقعیت لري. د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زمونږ یو معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او د یوه اړوند شخص سره مخامخ خبري وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز وموندئ په macmillan.org.uk/informationcentres یا په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

د ملاتړ سیمه ییز ګروپونه

د ملاتړ په ګروپ کې تاسو کولای شئ له هغو کسانو سره خبرې وکړئ چې د سرطان له اغېزو سره مخ شوي وي. په خپله سیمه کې د ملاتړو ډلو په اړه دلته macmillan.org.uk/supportgroups وموندئ یا له موږ سره په **0808 808 00 00** شمېره اړیکه ونیسئ.

د میکمیلن (Macmillan) آنلاین ټولنه

تاسو کولای شئ له نورو هغو کسانو سره چې د سرطان له اغېزو سره مخ شوي وي، آنلاین په دې وېب پاڼه خبرې وکړئ: macmillan.org.uk/community

تاسو کولای شئ د ورځې یا شپې هر مهال دې ټولنې ته لاسرسی وموندئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو پوستونه ولولئ.

ستاسو په ژبه کې نور معلومات

موږ د دغو موضوعاتو په هکله ستاسو په ژبه کې معلومات لرو:

د سرطان نښې او علایم

- د نښو او علایمو کارتونه

که تاسو کې د سرطان تشخیص وشي

- په انګلستان کې د سرطان پاملرنه
- د کډوالو او پناه غوښتونکو خلکو لپاره روغتیا پالنه
- که تاسو کې د سرطان تشخیص وشي

د سرطان ډولونه

- د کولمو سرطان
- د سینې سرطان
- د رحم د خولې سرطان
- د سږې سرطان
- د پروستات سرطان

د سرطان لپاره درملنه

- کیموتراپي
- رادیوتراپي
- سپیسبس او سرطان
- د سرطان د درملنې جانبي عوارض
- جراحي

د سرطان سره ژوند کول

- کله چې تاسو سرطان ولرئ نو د ګټو ادعا کول
- د خوړلو ستونزې او سرطان
- سالم خوراک کول
- د سرطان لرلو پرمهال په لګښتونو کې مرسته
- LGBTQIA+ خلک او سرطان
- ستړیا (ستومانې) او سرطان

د ژوند پای

- د ژوند پای

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره macmillan.org.uk/translations ته مراجعه وکړئ.
د معلوماتو د پوهیدو لپاره د نور ملاتړ لپاره

macmillan.org.uk/understandinginformation ته لاړ شئ.

مأخذونه او مننې

دغه معلومات د مکمیلن سرطان ملاتړ (Macmillan Cancer Support) د سرطان د معلوماتي پراختیا د ټیم په واسطه لیکل او تحریر شوي دي. دا په مسلکي توګه ژباړل شوې ده.

په دې معلوماتو کې راغلي مطالب زموږ پر وېب پاڼه په انګلیسي کې د LGBTQIA+ خلکو او سرطان په اړه د معلوماتو پر بنسټ دي.

دا معلومات د اړوندو متخصصینو لخوا بیاکتل شوي او د مکمیلن د کلینیکي تخصص مرکز (Macmillan's Centre of Clinical Expertise) غړو لخوا تصویب شوي.

له هغو خلکو څخه هم ډېره مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي چا چې د دغو معلوماتو بیاکتنه کړې ده.

زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو پر اساس دي. د هغو سرچینو په اړه د نورو معلوماتو لپاره چې موږ یې کاروو، مهرباني وکړئ موږ سره په دې بریښنالیکاړیکه ونیسئ
informationproductionteam@macmillan.org.uk

منځپانګه بیا کتل شوې: 2025

راتلونکی پلان شوی بیاکتنه: 2028

MAC18794_Pashto_E02

چمتو کوو دقیق او تازه وي مګر دا باید ستاسو د وضعیت سره سم د مسلکي مشورې د بدیل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځایه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، مېکمیلن (Macmillan) په دې خپرونه کې د هر ډول معلوماتو د کارولو یا د دریمې ډلې معلوماتو یا په ویب کې د شامل شوو معلوماتو د کارونې مسئولیت په غاړه نه منې.

© Macmillan Cancer Support 2025، په انګلینډ او ویلز کې راجسټر شوې خیریه موسسه (261017)، په سکاټلینډ کې (SC039907) او د Isle of Man (604). په شمالی ایرلینډ کې هم فعالیت کوي. یو شرکت د تضمین له مخې محدود شوی، په انګلینډ او ویلز کې راجسټر شوی د شرکت نمبر 2400969. د Isle of Man شرکت شمیره 4694F. ثبت شوی دفتر: 3rd Floor, Bronze Building, The Forge, 105 Sumner Street, London, SE1 9HZ د VAT شمیره: 668265007

Trusted Information Creator
Patient Information Forum

LGBTQIA+ people and cancer: English

This information is for LGBTQIA+ people who have cancer.

LGBTQIA+ means lesbian, gay, bisexual, transgender, queer, intersex and asexual people. It also includes other romantic or sexual attractions and gender identities.

If you are LGBTQIA+, you may have questions about cancer and your cancer treatment. You may want specific support that is for LGBTQIA+ people who have cancer.

If you have any questions about this information, ask your cancer team at the hospital where you are having treatment.

You can also call Macmillan Cancer Support on freephone **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.

There is more cancer information in this language and other languages on our website. Visit **macmillan.org.uk/translations**

This information is about:

- Talking to your healthcare team
- Getting fair treatment
- Cancer, sex and fertility
- Cancer if you are transgender, non-binary or intersex
- LGBTQIA+, cancer and your community
- Getting the right care and support for you
- How Macmillan can help you
- More information in your language
- References and thanks

Talking to your healthcare team

Your healthcare team are the people who give you treatment or advice about your health. This could be your GP, cancer doctor and nurses.

Sometimes a person in your healthcare team may ask you about:

- your gender – this means if you are a man, a woman, or any other gender identity
- your sex or reproductive body parts
- your sex life or sexual orientation
- your relationships and who is important to you.

This information can help your healthcare team support you. It helps them:

- give you the right health information
- treat you in a way that is personal for you
- support the people who are important to you.

If you are not sure why your healthcare team need this information, you can ask them. They can tell you why this may be important to support or treat you.

Can I tell my healthcare team I am LGBTQIA+?

If you want your healthcare team to know, you can tell them you are LGBTQIA+, even if they have not asked.

You may choose to do this when you first meet someone from your team. Or you may decide to wait until you find someone you feel comfortable with.

Some healthcare professionals wear an NHS Pride Rainbow Badge. This means the person wearing it supports LGBTQIA+ people. Some people in your healthcare team may wear other rainbow items instead. They may be LGBTQIA+ or they may want to show they support LGBTQIA+ people.

What else can I tell my healthcare team?

You can tell your healthcare team anything that is important to you. This could include:

- if you have family, friends or a partner who support you
- who you give consent for them to talk to about your care
- what information you do and do not need.

You may want to explain whether you are out or not. This means whether other people know you are LGBTQIA+ or if you keep this secret. Your cancer team should treat all information about you confidentially. They should only share information with other healthcare professionals when it is needed for your care.

Getting fair treatment

Your cancer team should treat you fairly, whoever you are. It is against the law to treat you unfairly because of your ethnicity, culture, sexual orientation, sex or if you are transgender. Or because of religion or if you have a disability.

If you feel like you are being treated unfairly, there are things you can do:

- Talk to someone from your cancer team, if you feel safe to do this. This may help your team make things right. It also helps them learn and give better care.
- Talk to someone you trust. This may be someone close to you or a healthcare professional you know well. There are also organisations that LGBTQIA+ people can talk to for support.
- Give feedback or make a complaint to the NHS. You can give feedback and make a complaint without giving your name if you want to.

Cancer, sex and fertility

Cancer and some cancer treatments can affect:

- your sex life – some side effects may be more of a problem depending on the type of sex you prefer
- your fertility – this means your ability to get pregnant or make someone pregnant.

Your cancer doctor or nurse can tell you if your cancer treatment may cause sexual side effects or fertility problems. You can ask them any questions about sex or fertility before, during or after cancer treatment.

Cancer care if you are transgender, non-binary or intersex

Your cancer team should offer you care, support and information that meets your needs. They should treat you as an individual and work with you in a way that respects your privacy and dignity.

Your team should always treat information about you confidentially. They may share information with other healthcare professionals, but only when it is needed for your care.

If you need to stay in hospital, your team should ask where you prefer to stay. Where you stay should give you privacy and keep you safe. Tell your team what feels comfortable and right for you.

If you are trans or non-binary
It can be helpful for your cancer team to know the gender you were assigned at birth. Sometimes this can be important. For example, some scans should not be used during pregnancy and can be harmful. If the gender on your NHS record is male and there is a chance you might be pregnant, it is important that the person doing the scan is aware of this to keep you safe.

There are some gender-affirming treatments that may affect cancer treatment. It is important to tell your cancer team if you have had or plan to have any of the following:

- hormone drugs that make your body more male or female
- surgery to make a penis or vagina (genital surgery)
- surgery to remove the breasts. This is called top surgery or male chest reconstruction.

If your cancer team need advice about how your cancer care may affect your gender-affirming care, the **UK Cancer and Transition Service (UCATS)** can help. UCATS is a free service provided by NHS professionals for people anywhere in the UK. Your cancer team should ask your permission before they contact UCATS. You can also contact UCATS yourself.

If you are intersex
Being intersex can make healthcare difficult. You may have had treatments in the past that you did not want. This may affect how you feel about hospitals and doctors now.

It is important that your cancer team understands this. They should work with you to plan your care. They also need to understand your body. If you have had surgery or hormone treatment for an intersex condition in the past, this may affect the cancer care you need now.

You can help your team by telling them:

- what words you use to describe your body
- if there are words or questions you find upsetting
- anything that makes healthcare difficult for you
- how they can make things easier for you.

LGBTQIA+, cancer and your community

Family and community can be an important source of support. But for some LGBTQIA+ people, this may be complicated. How your family or community feels about LGBTQIA+ people or about cancer, can affect how easy it is to ask for help.

People around you may not realise how they are affecting you. For example, some families or communities do not talk about cancer. There is an unspoken idea that cancer is private or should not be talked about. This can make it difficult to talk about what is happening to you or ask for help when you need it.

If you are struggling to get support or you are being treated negatively, try to talk to someone you trust. This could be a friend, partner, someone you work with or an LGBTQIA+ support group. You could speak to a counsellor if this would help. Ask your GP, cancer doctor or nurse if they can arrange this. Or call our free support line on **0808 808 00 00** for information and support.

Getting the right care and support for you

If you have cancer and do not speak English, you may be worried that this will affect your cancer treatment and care. But your healthcare team should offer you care, support and information that meets your needs.

We know that sometimes people may have extra challenges in getting the right support. For example, if you work or have a family you might also have worries about money and transport costs. All of this can be stressful and hard to cope with.

How Macmillan can help you

At Macmillan, we know how a cancer diagnosis can affect everything, and we are here to support you.

Macmillan Support Line

We have interpreters, so you can speak to us in your language. Just tell us, in English, the language you want to use.

Our expert advisers on the Macmillan Support Line can help with medical questions or be there to listen if you need someone to talk to. We can also talk to you about your money worries and recommend other useful organisations that can help. The free, confidential phone line is open 7 days a week, 8am to 8pm. Call us on **0808 808 00 00**.

Macmillan website
Our website has lots of information in English about cancer. There is also more information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

We may also be able to arrange translations just for you. Email **informationproductionteam@macmillan.org.uk** to tell us what you need.

Information centres
Our information and support centres are based in hospitals, libraries and mobile centres. Visit one to get the information you need and speak with someone face to face. Find your nearest centre at **macmillan.org.uk/informationcentres** or call us on **0808 808 00 00**.

Local support groups
At a support group, you can talk to other people affected by cancer. Find out about support groups in your area at **macmillan.org.uk/supportgroups** or call us on **0808 808 00 00**.

Macmillan Online Community
You can also talk to other people affected by cancer online at **macmillan.org.uk/community**

You can access it at any time of day or night. You can share your experiences, ask questions, or just read people's posts.

More information in your language

We have information in your language about these topics:

Signs and symptoms of cancer

- Signs and symptoms cards

If you are diagnosed with cancer

- Cancer care in the UK
- Healthcare for refugees and people seeking asylum
- If you are diagnosed with cancer

Types of cancer

- Bowel cancer
- Breast cancer
- Cervical cancer
- Lung cancer
- Prostate cancer

Treatment for cancer

- Chemotherapy
- Radiotherapy
- Sepsis and cancer
- Side effects of cancer treatment
- Surgery

Living with cancer

- Claiming benefits when you have cancer
- Eating problems and cancer
- Healthy eating
- Help with costs when you have cancer
- LGBTQIA+ people and cancer
- Tiredness (fatigue) and cancer

End of life

- End of life

To see this information, go to **macmillan.org.uk/translations**
For more support to understand information, go to
macmillan.org.uk/understandinginformation

References and thanks

This information has been written and edited by Macmillan Cancer Support's Cancer Information Development team. It has been translated professionally.

The information included is based on our LGBTQIA+ people and cancer content available in English on our website.

This information has been reviewed by relevant experts and approved by members of Macmillan's Centre of Clinical Expertise.

Thanks also to the people affected by cancer who reviewed this information.

All our information is based on the best evidence available. For more information about the sources we use, please contact us at informationproductionteam@macmillan.org.uk

Content reviewed: 2025

Next planned review: 2028

MAC18794_English_E02

We make every effort to ensure that the information we provide is accurate and up-to-date but it should not be relied upon as a substitute for specialist professional advice tailored to your situation. As far as is permitted by law, Macmillan does not accept liability in relation to the use of any information contained in this publication or third-party information or websites included or referred to in it.

© Macmillan Cancer Support 2025, registered charity in England and Wales (261017), Scotland (SC039907) and the Isle of Man (604). Also operating in Northern Ireland. A company limited by guarantee, registered in England and Wales company number 2400969. Isle of Man company number 4694F. Registered office: 3rd Floor, Bronze Building, The Forge, 105 Sumner Street, London, SE1 9HZ. VAT no: 668265007

